**بسم الله الرحمن الرحيم**

**ایران؛ هغه لوی دروغ چې ډېری خلک یې تېر ایستل!**

**(ژباړه)**

**خبر:**

الشرق الاسط ورځپاڼې تر «سوري شیعه‌ګان؛ ایران هغه لوی دروغ وو، چې موږ یې تېرایستلو او پروژې یې سوریه ویجاړه کړه.» سرلیک لاندې لیکلي دي: «د سوریې شیعه‌ګانو په سوریه کې د ایران له سیاستونو او همدارنګه له دې شکایت کړی چې دوی ته یې د سوریې له نورو خلکو په ځانګړې توګه اکثریت اهل سنتو څخه د وېرولو له لارې فرېب ورکړی دی. ایران خپل ځوانان ګمراه کړل او هغوی یې د نظامي سونتوکو په توګه په سیمه کې د خپلو ګټو لپاره د سپاه پاسداران د ملېشو (هغو غیررسمي وسله‌والو ډلو ته وایي، چې ډېری مهال د دولتونو یا ځانګړو ډلو تر امر لاندې نه وي او په خپلواکه توګه عمل کوي) په چوکاټ تنظیم کړل او وروسته یې پرېښودل. د مرکې ګډونوال په دې باور وو، چې ایران یو لوی دروغ وو چې پروژې یې سوریه ویجاړه کړه، اوسېدونکي یې له یو او بل څخه بېل کړل او شیعه او علوي طایفې یې د ولایت فقیه د پروژې لپاره په وسیلو بدلې کړې. دغه اقدام د سوریې په ډېری خلکو کې د ژور درځ لامل شو او د دغو طایفو اولادونه د هغه انقلاب پر وړاندې د یوې بې‌ګټې جګړې پر سونتوکو بدل شول، چې د سوریې د خلکو ببلابېلې ډلې یې متحدې کړې وې. ایرانیانو د سوریې ځینو شیعه‌ګانو ته د قدس د ازادۍ په تړاو په کاذبو ژمنو فرېب ورکړ؛ په داسې حال کې چې اصلي موخه یې د ایران د ګټو خوندي کول او د سوریې له خاورې استفاده کول وو، ترڅو د لبنان حزب‌الله ته وسلې ولېږدوي او فرقه‌یي تاوتریخوالی پراخ کړي.»

**تبصره:**

دا د ایران د نظام واقعیت دی؛ بلکې تر دې هم ناوړه دی، هغه نظام چې په لومړۍ ورځ د فرقه‌پالنې پر بنسټ رامنځته شو. د مسلمانانو تر منځ یې تفرقه رامنځته کړه، د هغوی یووالی یې ختم کړ او تر منځ یې د کینې او اختلاف تخم وشینده، بیا یې دا تخم وپاله چې وده وکړي، لوی شي او مېوه ونیسي. ډېری ساده او عام وګړي تېروتل او د هغه پر اساس یې ډلې، ټولنې او مرکزونه جوړ کړل، ترڅو د مسلمانانو په منځ کې فتنه خپره کړي. دا فتنه د دې سبب شوه چې مسلمانان له خپل اصلي دښمن یعنې استعمار څخه بې‌پروا شي او په خپلو کې سره ونښلي؛ دا هغه فرقه‌یي شخړې وې، چې د دوی په غوښتنه تل باید دوام وکړي او ړندې تاریخي کینې او دښمنۍ همداسې ژوندۍ وساتي.

د دغه اخوندي نظام پر وړاندې ځینو نورو حاکمانو لکه؛ د آل‌سعود حاکمانو هڅه وکړه، چې حزبونه، ټولنې او مرکزونه جوړ کړي، ترڅو مسلمان ځوانان په بې‌ګټو جګړو کې ښکېل کړي. دغه جګړې په ظاهره له دین او اهل سنت والجماعت څخه دفاع وه، خو په حقیقت کې یې موخه له اصلي دښمن یعنې استعمار څخه د مسلمانانو منحرفول وو، چې د بدبختیو او مصیبتونو سرچینه ده. په دې سبب مسلمانان له هغو اساسي بدلونونو څخه لاس په سر شول، چې د مسلمانانو په خاورو کې یې استعمار او کفر له منځه وړلی شوای او پر ځای یې د سني او شیعه تر منځ په فرقه‌یي شخړو کې مصروف

شول. په داسې حال کې چې دواړه نظامونه د اسلام دښمنان دي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم له اهل بیت او ټولو اصحابو څخه بېزار دي، له اهل سنت سره جنګېږي او په ټول توان سره هڅه کوي چې د ژوند ډګر ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو د بېرته راګرځېدو مخه ونیسي. دغه دوه نظامونه (ایران او سعودي) د رسول الله صلی الله علیه وسلم، اهل بیتو او اصحابو له محبت څخه تر ټولو ډېر لرې دي.

دا هغه نظامونه دي چې امریکا یې د خپل ولي په توګه غوره کړې ده، د هغې ګټې خوندي کوي او نقشې یې عملي کوي. د دغو نقشو په سر کې له اسلام سره جګړه او د مسلمانانو د یووالي مخنیوی دی. دغه نظامونه د غولوونکو شعارونو تر شا پټ شوي دي، چې عامو خلکو ته فرېب ورکوي او د ساده خلکو احساسات تحریکوي، لکه د قدس د ازادولو او له اهل سنت والجماعت څخه د دفاع کولو مسله. دغو شعارونو ډېرې خلک جذب کړي دي، خو ذهنونه یې غولولي او سترګې یې ړندې کړې دي. پایله دا شوه چې خلک د دغو خیانتونو او ظلمونو په سبب له تفرقې، عذاب، جنایت او فساد سره مخ شول، دا هغه څه دي چې امت د دغو ظالمانو او غرب ته ژمنو حاکمانو له امله تجربه کړل.

په پورته راپور کې په دې اړه د یو شمېر کسانو د نظرونو ارزول، په حقیقت کې د ایران د پراخو جنایتونو او دروغو یوه کوچنۍ بېلګه ده او دا وضعیت پر اسلامي خاورو د حاکمو رژیمونو په اړه هم صدق کوي. همدارنګه کوم خدمتونه چې ایران په افغانستان، عراق، سوریه، فارس خلیج، یمن او لبنان کې امریکا ته وکړل، په حقیقت کې د ډېرو مسایلو یوازې یو څو بېلګې دي.

هو، ایران یو لوی دروغ دی، زموږ د عصر دروغ او همدارنګه هغه نور رژیمونه چې له اهل سنت والجماعت څخه د ملاتړ او محبت ادعا کوي، په اصل کې ټول د غرب دوستان او د اسلام او مسلمانانو دښمنان دي.


**لیکوال: انجینیر باهر صالح**

**د حزب‌التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**ژباړن: صهیب منصور**